مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر ۲۰۲۱/۰۱/۲۷

# «بې لومړيتوبه ولس»

## د ولس وينبولو يوه بله هڅه

کالم د يوې ورځپاڼې، اونيزې يا مجلې او ويبپاڼې په يوه هميشني ټاکلي ځای کې تر يوه مستقل لوی عنوان لاندې د بيلابيلو مسايلو په اړه د مشخص ليکوال ليکنه ده، چې په وروستی لسيزه کې يې په افغانستان کې ډير لوستونکي او مينه وال پيدا کړي دي. کالم زياتره د هغو ورځنيو سياسي، ټولنيزو، اقتصادي، کلتوري او نورو مسايلو په اړه ليکل کيږي چې زياتره د خلکو ورته لږ پام وي. په زياترو مواردو کې خلکو ته سطحي ښکاري خو په حقيقت کې مهم وي.

په افغانستان کې کالم ليکنه نوې تجربه بللی شو. ځکه په هغو معيارونو چې اوس ځينې کالمونه ليکل شوي زموږ پخپلو پخوانيو مطبوعاتو کې دا ډول کالمونه نه ترسترګو کيږي. سره له دې چې اوسنيو کالمونو ته ورته ځينې ليکنې زموږ په پخوانيو مطبوعات کې خپرې شوې دي، خو د اوس غوندې په يوه مشخص ځای او تر ځانګړي لوی عنوان لاندې به نه خپريدلې. په پښتونخوا کې په (وحدت) ورځپاڼه کې د بشر نويد کالمونه چې د(ماته غوږ شه) تر سرليک لاندې خپريدل ډير مشهور و. په وروستيو کلونو کې د افغانستان په مطبوعاتو کې د شهرت ننګيال، زبير شفيقي، عصمت قانع، نجيب منلي، ايمل پسرلي، نجيب عامر، هميم جلالزي، ورمه سبا، نعمان دوست، نذيراحمد سهار، اجمل تورمان کالمونه هم مشهور دي چې يو شمير تر يوه مشخص عنوان لاندې او ځينې نور يې په تيت پرک ډول نشريږي.

په دې وروستيو کې د(بې لومړيتوبه ولس) په نوم د حفيظ هميم جلالزي کالمونه په کتابي بڼه د دانش خپرندويې ټولنې له خوا له چاپه رواتلي چې په دې برخه کې يې يو مهم ګام بللی شو. هميم جلالزي دغه کالمونه په بيلابيلو موضوعاتو ليکلي چې دمخه تر(لونګ) سرليک لاندې د بي بي سي پښتو ويبپاڼې کې خپاره شوي دي.

هغسې چې افغان ليکوال او ژورنالست ايمل پسرلي پردې کتاب پخپله سريزه کې ليکي:((زموږ خلک د بل فکر له د پوهنتون او ښوونځي کتاب برابر وايي، خو خپل فکر يا نه لري يا يې د کاغذ پرمخ نه شي انځورولی. بنايي همدا دليل دی، چې زموږ ډيری ليکنې اصلي موضوع ته نه داخليږي. اوږدې مقدمې راته ليکي، پخواني تاريخ ته ځي. افلاطون او دهغه پلار رايادوي خو په خپل ژوند کې تجربه کړې خبره يې قسم کړی چې ونه وايي)) هميم جلالزی په دې کالمونو کې تر ډيره خپلې خبرې لري، هغه څه يې چې پخپله ليدلي، حس کړي او ارزولي دي په خوږه ژبه تر موږ رارسولي دي، د کتاب د بيلابيلو کالمونو په لوستلو سړی فکر کوي چې له يوه داسې مفکر سره مخ دی چې خبرې يې سنجيده او پر خپلو تجربو ولاړې دي.(( ځکه د ټوپک په سلو مردکيو کې به يوه پر داسې ځای لګيږي، چې مناسب وي، خو په کتابونو کې به په سلو خبرو کې يوه نامناسبه پيدا کيږي... تر ټولو ښې او هوسا ټولنې هغه دي چې فکرونه پکې جوړ دي، زموږ د ټولنې اصلي ستونزه دا ده چې دلته فکرونه جوړ نه دي، او تر هغه وخته چې موږ د جوړو فکرونو خاوندان نه شو، د جوړې ټولنې ښتنتان به هم نه شو. موږ چې پوهنتون ته اول کال راغلو نو د هر څه لپاره به مو يو نوم پيدا کاوه او يا به مو پرديو نومونو ته انکشاف ورکاوه. په ټولګي کې چې به چا داسې خبره وکړه، چې موږ ته به يې خوند رانه کړ، نو موږ به ورته ويل چې دا د موټروانې ادبياتو يوه بېلګه ده))

يا:((زه چې په پوهنتون کې وم، نو دوه کاله مو څو ورځې د دانشګاه او پوهنتون د ټکي پر سر مظاهرې وکړې او درسونه مو قضا کړل. هغه کسان چې دغې مسلې ته به يې لمنه وهله، پر دانشګاه دومره ټينګ ول، چې ان يوه ورځ خو يو څو وکيلانو د کابل پوهنتون د ليليې په دروازه کې دانشګاه پلوه محصلينو ته پيغور ورکړ، چې ((په امريکا کې تور پوستی ولسمشر کېدای شي او په افغانستان کې تاسي يوه لوحه نه شئ بدلولای.)) اکثره دغه کسان ما پيژندل او اوس يې ډيرو په کابل کې خصوصي پوهنتونونه جوړ کړي دي. دوی اوس نه د خپل پوهنتون پر لوحه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دانشګاه لیکي او نه یې په اعلاناتو او بیل بورډونو کې لیکي، بلکې هر ځای یې پوهنتون لیکلی وي. له دې څخه ښکاري، چې موږ څرنګه مسایل سیاسي کوو او پر تورو باندې څنګه سیاست او ګټې کوو؟
همدغه کسان سیاسي فرهنګیان و، چې پر تورو یې سیاست وکړ او اوس ارام ناست دي. دواړه لوري یې یو له بل سره په یوه کاسه کې خوري، خو هغه کسان چې د دوی په لاربښوونه یې د ژبې او قانون د حفاظت غږ پورته کړی و اوس هم سره دښمنان دي))
د همیم جلالزي ددې لیکنو نثر ساده، خوږ او عام فهمه دی سړی نه یوازې د فکر او نویو پیغامونو له لوستلو خوند اخیستلی شي، بلکې نثر یې هم جذاب دی او سړی نه ستړی کوي.
لکه څرنګه چې د کالم لیکنې خصوصیت هم دی همیم جلالزي د هر کالم په لیکنه کې اوږدې سریزې نه دې لیکلې بلکې وار له واره یې اصلي موضوع رااخیستې ده:((په افغانانو کې چې یو شی کم دی هغه زغم دی. زموږ ټولې ناخوالې له دې کبله دي چې یو د بل پر وړاندې زغم نه لرو. خلک داسې دي چې څومره یې له یو بل سره اړیکې زیاتیږي، هومره یې زغم پیاوړی کیږي، خو افغانان بیا دا ډول خلک نه دي او په دې برخه کې هم له نورې نړۍ څخه مستثنی دي.دوی له ډېرو تجربو وروسته هم زغم نه لري. په فېسبوک کې ډېر ښه ښکاري، اکثره خلک د هېچا نظر ته هم درناوی نه لري.)) یا:((له پروسږ کال راهیسې د غزني تاریخي او لرغوني ودانۍ یوه په بله پسې نړېږي. غزنی چې شاوخوا زر کاله مخکې د جوزجاني په قول د ختیځې او منځنۍ اسیایوه لویه امپراتوري وه اوس یې هغه اثار هم د ورکېدو په درشل کې دي، چې په لیدو به یې انسان ته ددغې امپراتورۍ برم سترګو ته درېد))
او که د کومې موضوع لپاره د مقدمې ضرورت پیښ شوی نو ډېره لنډه مقدمه یې کښلې چې موضوع ته د ورتلو لپاره پل شي او بیا یې ورپسې پر موضوع خبرې پیل کړې دي لکه: ((زموږ یوه بله اخلاقي ستونزه دا ده چې موږ پخپله هم درواغ وایو او نور هم اړ باسو چې درواغ ووایي او پایله یې بیا هم فساد وي.)) یا لومړی د موضوع په اړه لنډ خو په زړه پورې معلومات ورکوي او بیا اصلي موضوع رااخلي:((د میرې د میلې تر ټولو مهمه او پاموړ برخه سانګې وې. زه نه پوهېږم له شلګر، زرمت او کټواز پرته به د افغانستان په نورو کومو سیمو کې سانګې وي خو ماته چې مشرانو کیسې کړې دي په اندړو کې له پېړیو پېړیو راهیسې د اس ځغلونې دغه لوبه شته، چې پښتانه ورته سانګې وایي او پاړسیوان یې په نیزه بازي پېژني ))
کله کله هم خبره په یوه کیسه پیلوي:((څو ورځې مخکې په غزني کې ښار کې غرمه یوه هوټل ته د ډوډۍ لپاره ور وختلو. د ډوډۍ د خوړلو پر مهال یو بل ملګری، چې هلته په غزني کې اوسي را په غوږ شو او ورو یې راته وویل، شاته وګوره.
کله چې مې شاته وکتل د هوټل هغه بل کونج ته درې کسان ناست دي او کاغدونه په لاسونو کې کښنته و پورته کوي.
ملګري مې راته وویل چې ستاسې د لیسې مدیریت اوس د هوټل همدغه کونج دی ، ټول کارونه همدلته کېږي.
ټکان مې وخوړ. د غزني پیاوړې لیسه سلطان شهاب الدین غوري رایاده شوه. د لسم ، یوولسم او دوولسم ټولګې خواخوږه ملګري رایاد شول، چې څو تنه یې اوس زموږ په منځ کې نشته او په وروستیو جګړو کې وژل شوي دي))
په لنډ ډول ویلی شو چې (بې لومړیتوبه ولس) کتاب په دې برخه کې یو کمساری کتاب دی چې تر اوسه خپاره شوي او مالوستي دي. په دې کتاب کې هم معلومات شته هم خاطرې هم پکې د خپل اوسني تاریخ په اړه په زړه پورې او د لومړي لاس معلومات راغلي دي چې په راتلونکي د تاریخ لیکلو پروخت ترې ګټه اخیستل کیدای شي او هم پر دې کتاب داستاني تنده ماتیدای شي. د لیکوال د سترګو لیدلی حال او خاطرې نه یوازې داچې کتاب د لوستلو لپاره لا خوندور کړی بلکې په همدې خاطرو کې په زړه پورې معلومات هم شته او د نوي فکر په خپرولو کې نقش لوبولی شي.
همیم جلالزي لکه څنګه چې پخپلو خوږو شعرونو کې د لوړو انساني افکارو د خورولو او د ولس د راویښولو هڅې کوي په دې کتاب کې هم داسې موضوعات رااخیستي دي چې په ظاهره واړه او له نظره لویدلي ښکاري خو په حقیقت کې زموږ له ژوند سره کلک تړاو لري که موږ ورته متوجه شو او په ژوند کې یې عملي کړو ممکن هغه ستونزې چې اوس ورسره مخ یو سبا ونه لرو.
زه په داسې حال کې چې ژمن لیکوال ګران حفیظ همیم جلالزي ته ددې کتاب د خپریدو مبارکي وایم د ایمل پسرلي صاحب هیله او غوښتنه تکراروم او هیله لرم چې همیم جلالزی د کالم لیکنې دا لړۍ جاري وساتي او موږ په راتلونکي کې دده د نورو نویو کالمونو لوستونکي واوسو.

علم ګل سحر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ